**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پاریس خبرې اترې د غزې د خلکو او د دوی د مقاومت له منځه وړلو لپاره دي**

**نو اې مسلمانانو، په مبارکه خاوره کې د خپلو خلکو ملاتړ وکړئ!**

**خبر:**

فرانس ۲۴ د ۲۰۲۴م کال د فبروري په ۲۴مه راپور ورکړی: «دا خبرې اترې په پاریس کې پیل شوې چې د اسراییلو د استخباراتو، موساد مشر او د شین بت امنیتي ادارې (شاباک یا شین بت د اسراییلو د داخلي امنیت اداره ده) د امریکا، مصر او قطر له استازو سره وکتل. د اسراییلو د ملي امنیت سلاکار تساچي هنیګبي ( Tzachi Hanegbi) شنبه ماښام په یوه تلویزیوني مرکه کې وویل: «پلاوی له پاریسه راستون شوی ... ممکن د توافق پر لوري وړاندې تګ لپاره ځای وي». نوموړي تر ناستې لږ وړاندې زیاته کړه چې مذاکره کوونکو غوښتي له کابینې سره خبرې وکړي چې «موږ ته ژر د پاریس ناستې د پایلو په اړه خبر راکړي». اسراییلي رسنیو وروسته راپور ورکړ چې دا ناسته پای ته رسېدلې او کابینې منلې چې په راتلونکو ورځو کې به د څو اونیو اوربند او د فلسطیني زندانیانو په بدل کې د اسراییلیانو د خوشي کولو په اړه د خبرو اترو د دوام لپاره قطر ته یو پلاوی لېږي.» [سرچینه]

**تبصره:**

د ۲۰۲۳م کال له اکتوبر راهیسې تر ۱۴۰ زیاتې ورځې کېږي چې یهودیان په غزه کې په ډېر وحشت ټولوژنه کوي. په دغې جګړه کې تر ۳۰ زرو زیات ملکیان شهیدان شوي او تر ۷۰ زرو زیات ټپیان دي. سره له دې د غرب ملاتړ لرونکی دغه وحشي رژیم تر اوسه هغو موخو ته نه دی رسېدلی چې لرلې یې؛ د یرغمل شوو ازادول او د مقاومت له منځه وړل. نو ځکه یې اوس د خبرو اترو لار نیولې چې یرغمل شوي یهود ازاد کړي.

ټولو اړخونو، مصر، قطر او امریکا څو اونۍ د یوه داسې فورمول د موندلو لپاره کار وکړ چې یهودي دولت خوشاله او یرغمل شوي ازاد کړي. په داسې حال کې چې د غزې خلک بې ځایه شوي او وږي دي او کورونه یې پر سرونو ور نړولي! که له غرب سره د روژې مبارکې میاشتې، د جهاد او فتحو میاشتې په را رسېدو سره د اسلامي امت د راپورته کېدو او په اسلامي نړۍ کې پر غربي اجنټانو د امت د بریدونو ویره نه وی، د وینو د ویالو له بهولو به یې

هم دریغ نه وی کړی. د وینو بهولو ته به یې دوام ورکړی وی، لکه په بوسنیا-هیرزیګووینا او صلیبي جګړو کې یې چې وبهولې.

نو د دغو خبرو اترو موخه د یرغمل شوو یهودو ازادول دي چې د زور او وحشت له لارې یې ونه شوی کړی. دا کار د غزې د بې دفاع خلکو د ټولوژنې د لنډمهاله بندولو په بدل کې کېږي. د روژې مبارکې میاشتې تر ختمېدو وروسته به ټولوژنې ته بیا دوام ورکوي. د قطر او مصر په ګډون ټول راټول شوي اړخونه د غزې د خلکو پر وړاندې دسیسې جوړوي. سره له دې چې د هر څه وړتیا لري، خو د ناستې یوه ګډونوال هم د محاصرې په لرې کولو او د خلکو په ملاتړ یا ان د مرستو په لېږلو، د غزې له خلکو سره ریښتینې خواخوږي نه ده کړې. دوی د غزې په وژلو، وږي کولو او ښایي د امریکا او یهودو د موخو لپاره –چې پر سیمه د ماتېدونکي یهودي دولت د هژمونۍ او واکمنۍ بیا ټینګول دي- غرب او یهودو ته تسلیم دي. دا هر څه په اسلامي نړۍ کې د غلامو رژیمونو پر وړاندې کېږي چې یوازې ننداره کوي. دا رژیمونه ان له یهودي دولت سره مرسته کوي، پیاوړی کوي یې او اړتیاوې یې پوره کوي؛ اسرایلو ته له ترکیې، اردون او متحده عربي اماراتو سبزۍ او مېوې ور روانې دي. په داسې حال کې چې د غزې خلک له لوږې مري!

سره له دې چې د غزې خلک صبر او خدای ته رجوع کوي؛ خو نور دغه رنځ او کړاو نه شي زغملی. دا حالت د مسلمانانو د حکامو او د دوی د لویو پوځونو د رذیلانه غفلت په سبب دی چې د ذلیلو قمندانانو لخوا –چې له غلامو سیاسي رهبرانو سره هیڅ توپیر نه لري- رهبري کېږي. په حقیقت کې، نظامي قمندانان د یوې خاورې اصلي رهبران وي؛ لکه د مصر او پاکستان پوځ. د فلسطین مقاومت د دوی له تاریخي او بې ساري مقاومت سره سره، یهودي دولت ته چې د نړۍ د ټول شطاني ځواک ملاتړ ورسره دی، په یوازې ځان ماتې نه شي ورکولی.

نو که د دغې چټلې لوبې قوانین بدل نه شي، له شک پرته امریکا او یهود خپلو موخو ته رسېږي. د دغو قوانینو بدلول د نړیوال ډګر د تر ټولو ستر لوبغاړي په لاس کې دي چې غرب یې زرګونه ځله په اړه فکر کوي او بحث پرې کوي؛ هغه ترل شوی اسلامي امت دی. دا امت یوازې هغه وخت ازادېدی شي چې د ازادېدو لپاره یې اقدام وشي او په پوځونو کې مخلصین دغه غلام حکام راوپرځوي. امت یوازې هغه وخت ازادېدی شي چې حزب التحریر ته د نبوت پر منهج خلافت د تاسیس لپاره نصرت ورکړي. دا هغه څه دي چې د اوسني تاریخ مسیر به بدل کړي. دا هغه څه دي چې مسجد الاقصی به ازاد کړي او د یهودي دولت نوم او نښان به ورک کړي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**تُقَاتِلُونَ الْيَهُودَ حَتَّى يَخْتَبِيَ أَحَدُهُمْ وَرَاءَ الْحَجَرِ فَيَقُولُ يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ**» (بخاري، مسلم او ترمذي)

**ژباړه:** تاسو به له یهودو سره جنګېږئ، تر دې چې یو له دوی به د ډبرې تر شا پټېږي، نو ډبره به وایي چې اې د الله بنده زما شا ته یو یهودی دی، ویې وژنه.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**بلال المهاجر – ولايه پاکستان**